عبدالمالک بېکسیار
۲۰۲۰/۱۱/۱۲

# د شعرونو کیسي

## یوه نوې طرحه

### یو نوی وړاندیز

په پښتو کې لا دا خبره نده باب شوې چې لیکوال دې د خپلو لیکنیو اسلوبو او تجربو په هکله ولیکي، هسې خو له لویه سره داسي کوم ستر نړیوال یاسیمه ایز نوښت هم چا ندی کړی او نه چا پدا شته فورمونو کې کوم شهکار پنځولی، خو همدا نیم او نیم کله شخصي نیمګړې تجربې هم د هر لیکوال د همغه لیکوال له مړینې سره یو ځای خاورو ته سپارل کېږي.

زما د شخصي مطالعي په حدودو کې شپون صیب پر ګور یې نور شه ډېر څه د متفرقو لیکنو او مرکو په ترڅ کې د خپلې لیکوالی او په تولو کې د کیسه لیکنې او ادبیاتو په باب موږ ته پرېښي دي.

پدې وروستیو کې ډېرکاري او جدي لیکوال اپمل پسرلي اول د کیسو کیسي او بیا وروسته د نړیوالو کیسو کیسي کتابونه چاپ کړل چې له بده بخته لا ما ندي لوستي، خو د کتابو له نومونو او پر فېسبوک د یو او بل له لنډو لنډ تبصرو داسي ښکاري چې پدغو کتابونو کې به د کیسه لیکنې په باب مواد راټول شوي وي، خو دا چې پسرلي صیب به خپلې تجربې هم ورسره ملې کړې وي او که له معمول سره سم به یې یوازې د نورو پر اثارو لیک کړی وي لا ماته نده پته.

په نورو ژبو کې دا عامه خبره ده چې لیکوال د خپل عمر په یوه پړاو کې بیا خپلې لیکنی تجربې لیکي، خلکو سره یې شریکوي او له پنا کېدو یې ژغوري . همدا څه موده مخکې مې د کولمبیایي لیکوال ګارسیا مارکز د مرکو یو کتاب لوسته چې خورا ډېره برخه یې دده پر لیکوالۍ او په تېره بیا دده پر سل کاله یوازېتوب ناول راڅرخېده چې د نوبل جایزه یې هم ترلاسه کړې . پدغه کتاب کې د ناول پر تولو وړو وړو او لویو اساسي ټکو په تفصیل سره بحث شوی، له تلوسي نېولي تر پلاټه تر کریکټرونو ، د کریکټرونو تر ټولنیز او اروایي تشخصه او خلاصه هر هغه څه چې پدغه کتاب کې راغلي، ولي راغلي او څنګه راغلي . لیکوال چې مدعي دی دغه اثر یې په ۱۷ کالو کې لیکلی ، همغاه شان یې پرزه پرزه او ټوټه ټوټه تشریح کړی هم دی.

زه تر دې زیات معلومات نه لرم ښایي د همدغه لیکوال د لیکوالی په هکله نور او لا ځانګړي او تر دې مرکو مشخص اثار هم وي، خو وشه که نه هم وي نو دده د کیسه لیکنې تولې تجربې په همدې یوه کتاب کې هم خوندي او له پنا کېدو محفوظې دي.

دلته به زه د خپل یو غزل د لیکلو کیسه پدې پار ولیکم چې نور ملګري هم پدې سین راګډ او دا ښکلی او عالي دود په پښتو کې عام شي:

د محبوب القلوب او ډېرلوستي هزاره لیکوال ښاغلي اسد بودا یو ووړ یادښت مې لوسته خوند یې راکړ بیا بیا مې ولوست او وروسته مې بیا پر خپله فېسبوک پاڼه شریک هم کړ، له بده مرغه چې د ښاغلي فېسبوک پاڼه اغیارو ور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ترلې کنه نو دغه یادښت به مې دلته راوړی وای . پدغه یادښت کې یوه کلمه چې زما تر ټولو ډېره خوښه شوه هغه د "ټئنشن" کلمه وه، بودا لیکلي و چې غم یې خوښ دی ځکه ټئنشن کېږي او ژر نه ځي .
دغه وخت کې زه د ټئنشن کلمې د پښتو اندول په سوچ کې شوم، تر ډېر سوچ وروسته مې هم داسې رغنده څه فکر ته را نه غلل، ډوب، ژور، تل او ... کلمې مې سره واړولې راواړولې خو هغه چنګ یې نه لګاوه چې زړه کې مې ټئنشن شي.

فیسبوک مې بند او کمپیوټر مې وتاړه، تر یوې پیالې چای څښلو وروسته پر بایسکل روان شوم چې لور مې له ښوونځي راولم، پر لاره بیا همدا د ټئنشن فکر راسره مل شو، دلته نو اوس ښایي زه د شعر په موډ کې وم، دا نیم بیتی خولې ته راغی:

## لکه غم د زړه ژورو ته مې راشه

دغه وروستی د راشه کلمه به مې کله " اوسه" کړه او کله به مې بیا بېرته راشه کړه، اوس نو په قصدي توګه پدې لټه کې شوم چې بله نیم بیتي پسې ولیکم نو دا سوچ راغی، غم چې د زړه په ژورو کې " ټئنشن" کېږي نو د واره مې فکر د غم مخالف " خوشالۍ" کې ونښت او دا نیم بیتی را وپنځېده:

## خوشالۍ غوندې برسېره څه تېرېږې؟

دغه بیت مې کور ته له راتګ سره موبایل کې خوندي کړ.

لدې پېښې دوه اونۍ وروسته په خپلو خیالونو او سوچونو کې ډوب پر یوه نرۍ او ځنګلي لار په منډه وم، که ګورم چې د کاروان صیب د کلیوالي په شان یوه دنګه جینۍ، بربنډې ملتې، تر ملا طلایي زلفې .... هم په ځغاسته راروانه ده، ماته په رارسېدو چې غوښتل مې سمه یې د سترګو له فلتره وکاږم، له مانه ټوخې وشو او هغې د کرونا له وېرې دلارې بچولو په نیت داسې ټوپ ووهه چې نږدې و یوې ونې سره ټکر شي، خورا حیرانه شوه او ځو واره یې بیا بیا ماپسې شا شاته راوکتل .

د جینۍ دغه وهم، وېرې، ترهېدلو،ټوپ او شا شاته راکتلو دلته بیا دا بیت را وزېږاوه:

## لکه وهم لکه وېره څه تېرېږې؟

لس - شل ګامه وروسته مې خپل ټوخې او کرونا ته سودا شوه چې له څو ورځو مې ورته سودا وه او ددې جینۍ ډېر غلیظ غبرګون یو ځل بیا را یاده کړه او دا دوهم بیت را وپنځېده:

## نن سبا مې زړه کې ډېره څه تېرېږې؟

پدې ځای کې هغه بله خبره هم تصدیقېږي چې د شعر مانا د شاعر په بطن کې وي، زما پدغه نیم بیتي به خدایزده چې لوستونکي کوم کوم ګومانونه کوي، پداسې حال کې چې د پنځېدو په وخت کې دا کرونا ته ویل شوی دی.

خلاصه کلام چې پدې ترتیب د غزل مطلع رامنځته شوه، چې زما په فکر د یوه غزل په پنځېدا کې نیم په نیمه ارزښت لري او په سلو کې ۹۹ سلنه زه خپله او زما په ګومان نور شاعران شروع له همدې مطلعې څخه کوي، او چې مطلع ولیکل شوه لکه د کور بنسټ چې کېښودل شي بیا پرې نورې مسرې لکه خښتې په اسانه قطارېږي.

تر مطلعې او هغې یوې بلې مسرې وروسته بیا د خپلې نستالجیا خزانې ته ورغلم یوه ځای کې مې یو توت په بېره واړاوه او له ارواښاد ډاکتر خالق زیار نه مې د بېرې او ټال تصویر راپور او دا مسره ولیکله:

دا مقام مو د اول ځل ملاقات دی
هغه ټال دی هغه بېره څه تېرېږي

تر دې وروسته نو بیا ورو ورو په یو دوه ساعته کې غزل را پوره شو.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

# غزل

لکه وهم، لکه وېره څه تېرېږي؟
نن سبا مې زړه کې ډېره څه تېرېږي؟

لکه غم د زړه ژورو ته مې راشه
خوشالۍ غوندې بر سېره څه تېرېږي؟

تا خو وې د زړه داغونه سره شمېرو
اوس چې پړه شولې له شمېره څه تېرېږي؟

نه راګورې نولوې مې څله ګلې؟
د زړه ور کې تېره بېره څه تېرېږي؟

ما ساتلې یې چې ببرته دې را یاد کړم
له پنجرې زما د هېره څه تېرېږي؟

دا مقام مو د اول ځل ملاقات دی
هغه ټال دی، هغه بېره څه تېرېږي؟

تصور د دغه رنګ کلي کې څه دي؟
بېکسیاره ترې چاپېره څه تېرېږي؟

په میدان نه ځي دا لاره بېکسیاره
له پروانه له پنجشېره څه تېرېږي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ